www.Goftman-AFG.net
E-Mail: Goftman-Afg@gmx.net

گفتمان
نشریهٔ گفتمان ملی افغانستان
دافغانستان دملي خبرو اترو خيرونه

نویسنده: محمد عتیق پاخون
تاریخ:

# د تورخم سناريو



**د جنرال محمد عتيق پاخون ليکنه**

د افغانستان بخت لمړی ځل هغه وخت وګرځېد چه په ۱۹ پېړی کې له بهر نه دوه ستړې استعماري امپراطورۍ (لويه برطانيه او تزاري روسيه) د دراني امپراطورۍ پولو ته ځانونه را نژدې کول او په دننه کې د تيمورشاه ځامن چه له زياتو ښځو نه وه په واک نه سره جوړېده او ان تر دې چه خبر ئې وسله والو جنګونو او کشمکشونو ته ورسېده. د دې ټولو ناخوالو په پايله کې افغانستان له نيمائي نه زياتې خاورې په هغو کې له مېشتو ډېرو با استعداده اوسېدونکو سره له لاسه ورکړې، له ازاده اوبو نه محروم او يو کمکی په وچه کې پروت هېواد پاتې شو.

دوهم ځل زمونږ له هېواده بخت هغه وخت مخه واړوله چه د دوهم نړيوال جنګ په پای کې انګرېزانو د خپلو اقتصادي، سياسي او ستراتيژيکو اوږدمهاله موخو لپاره د افغان او هند په خاورو باندې د ۱۹۴۷ کال د اګست په مياشت کې يو نوی هېواد د پاکستان په نامه جوړ کړ .

دا نوی هېواد چه له اره د يوه تاريخي واقعيت پر اساس نه ده جوړ شوی د تاريخي واقعيت په توګه د خپل ځان د ثابتولو او ښودلو لپاره له خپلو دواړو ګاونډيانو هندوستان او افغانستان سره له هېڅ راز دښمنۍ لاس نه دی اخيستی تر څو هندو ستان په دوو جنګونو کې داسې نه هېرېدونکی درس ورکړ چه اوس ئې زاره ترې چوي. پاته کمبخت او کمزوره افغانستان ده چه له هغه ابتدا نه ئې هره بدي او دښمني چه له لاسه شوي دي نه تنها د دې هېواد په مقابل کې کړې دي بلکه په خپله د پاکستان په پښتنو او بلوڅو ئې هم له هېڅ راز ظلم، ستم او ښکېلاک نه صرفه نه ده کړې. تاسو ګوری دا ۴۰ . ۵۰ کاله دی په افغانستان او پښتونخوا کې په څه اخته ده.

چه بحث اوږد نه شي را به شو اصلي موضوع ته: چه هر کال د افغانستان د مېوو او سبزيجاتو د حاصل او صادراتو وخت شي دی خامخا يوه بهانه پيدا کوي، بندرونه بندوي او افغان کروندګرو او تجارانو ته د مېوو او سبزيو د خرابېدو له امله په مليونونو ډالره خساره رسېږي. دا لمړی او اخر ځل نه دی او نه به وي بلکه دا ډرامه دوام لري تر څو په قطعي توګه د دې بد بوږي له غمه ځان خلاص کړو او ازادو اوبو ته لار پيدا کړو.

دی ښه پوهېږي چه افغانان غير له هغه خپل افغاني همت او غيرت نه د جنګ کولو لپاره اوس هېڅ هم نه لري، د افغانستان د اردو ټولې وسلې، تجهيزات او وسائل د مجاهدينو د واکمنۍ په مهال په

همدي دښمن باندي د کباړيو په بيه و پلورل شوې (په پښتو ژبه کې يو متل دی "تشه لاسه ته مې دښمن ئې") . اوس افغان دولتونو ته په کار ده چه خپل پوځ بېر ته په پښو ودروي، مودرنې وسلې هوائي او ځمکنيو قواؤو ته را و پېري، خپل افسران د ننه او په بهر کې وروزي، پوځي صنايعو ته وده ورکړل شي او د وسلو او مهماتو جوړولو کارخانې په هېواد کې د ننه جوړې شي، ځکه مونږ دوه ډېر بد او له پوځي اړخه قوي ګاونډيان لرو چه تل د زور او تهديد خبرې کوي، د زور په مقابل کې ښائي چپه خوله پاتې نه شو که نه وي تل به څاپېړې خورو او په ډار کې به شپې او ورځې تېروو .
ايراني واکمنانو د هلمند د حقابې په اړوند څومره د تهديد او ډارونې اخطارونه ورکول، پخپله ئې ليدل چه په سيند کې اوبه کمې شوي، هان تر دې چه يو مسلکي پلاوی ئې افغانستان ته را واستاوه او د هلمند د اوبو کچه ئې د دهراوت په ولسوالۍ کې اندازه کړه او خپل دولت ته ئې رپوټ ورکړ چه په رښتيا سره هم د اوبو کچه په سيند کې کمه شوې ده مګر سره له هغه هم دوی د زور خبرې پرې نه ښودې.

د تاسې دې ياد وي که کله افغانستان تصميم و نيسي چه د کنړ په سيند د برېښنا بند جوړ کړي، پاکستان حتماً د دې کار ممانعت کوي.

**و من الله توفيق**